# د خېرالبیان د اسلوب ارزښت او جوړښت

# SIGNIFICANCE OF THE STYLE AND TECHNIQUE OF KHAIR UL BAYAN

بدرالحکیم حکمیزی*

شکیل احمد**

**ABSTRACT:** The prose of Khair-Ul- Bayan is a proven foundation stone which let erected the high rise building of Pashto prose and poetry on it. Due to its remarkable role, it deserves to be explored on every aspect.

In the paper a vital critical and research study is filed about its style specially that will hopefully help the scholars and students to know about the said book to a large extent.

د خېرالبیان ښائسته بیان په خپل کلک پښتني ست ‌ څېړنکاران ځان پلو ته رابولي. هر بللی پۀ بیړنده تال او چال ورځي چې له دغه ویړ دسترخوانه د یو څه خوند او شخوند برخمن شي. څوک ئې د فکر او فلسفي مخه او موخه لټوي او څوک یې ژبنی جوړښت او ارزښت سپړي او پلټي. پۀ هر مخ او اړخ ئې ښۀ پۀ زړۀ پورې کارشوی دی خو بیا هم نور کار او زیار سترګې پۀ لار دی. خېرالبیان د پښتون فلسفي، پېژندلي لاربښور، غښتلي لیکوال، د افغاني ټولنې او ساپوهنې منلي پوهان، ښاغلي پیرروښان زېږونه ده. پۀ ډاګه ده چې دا خوندور اوګټور لیک د پښتوادب د دویم پړاو نۀ یوازې وړومبی نثري لیک دے بلکې یو شمېرنور اولیتونه هم پۀ خپل نوم کوي. پۀ نورو ټکو کښې د پښتو ادب د کلاسیکي دوري سالاري هم کوي او سرلاري هم. هم دغه سالاري او سرلاري ئې پۀ تت ډول داسې پېژنو: خېرالبیان یوه داسې لوړ پوړه علمي او ادبي فن پاره ده چې فن او اند ئې دواړه د خوند دي. د فن او فکر نوې سپړلې لارې او چارې ئې پسې راغلو لیکوالانو ښې پاللې او ستائیلې دي. یو شمېر داسې لیکوالان ترسترګو کیږي چې د خپل فني او فکري چلن لپاره ئې

* ویزیټنګ لیکچرر پښتو څانګه، پېښور پوهنتون، پېښور

**لیکچرارپښتو څانګه ،پېښور پوهنتون ، پېښور

د خېرالبيان خاپونه غوره ګڼلي دي. پۀ خپلو خپلو بيانونو کښې د زور او اغېز شتۀ کولو له پاره ئې د نوموړي کتاب دوه منلى او پاللى دى. لکه:

1. داهم خېرالبيان دى چې پۀ وړومبي ځل ئې پښتو نثر د تصوف پۀ پېچلې خو سپېڅلې نظريه سنجولى دى. د خپل ځانګړي مسلک روشنيه خپروني او رسوني تۀ ئې خپلې ټولې پانې سپارلې دي. پۀ دغه بيرته دريځه د پښتو ادب جونګرې تۀ د تصوف شمال راننوت او د نظم او نثر پۀ ګلونو ئې زرغون سپرلى دبره کړو. د بېلګې پۀ توګه د ملا ارزاني، ميرزاخان انصاري، او د اخوند دوريزه نظمي او نثري زېږونې يادولى شو. خېرالبيان دود کړې دغه روايت ترننه د پښتو ادب يو نۀ بېلېدونکى توکى ګڼل کېږي.
2. خېرالبيان دى چې پښتو نثر تۀ ئې د قافيې او وزن ښکلا راوړه. يو زړۀ راښکونکے رنګ او اهنګ ئې له سورۀ الرحمن نۀ پۀ پور واخيست. پۀ دغه پۀ زړۀ پورې تال او تول ئې خپل لوستونکي او اورېدونکي له ځان سره همغاړي وساتل. پۀ دې عروضي ډوله نوي ليک ډول نۀ يوازې سترګې او غوږونه خوښ شول بلکې د پېغام مېلمستيا ته ئې زړونو هم خپل منډوونه جارو کړل. دا مقفع او مسجع ليک ډول د خېرالبيان ورکړه ده چې مخزن او نورو پۀ ډېره مينه وپالله. ,,د اخوند درويزه د اثارو ليکنه او طرز کلام د روښانيانو د ادبي حرکت او اثارو د عکس العمل پۀ توګه منځ ته راغلى دى چې د فورم او شکل له مخه د روښاني ادب پېروي ئې ګڼلے شو، ،،(١)
3. خېرالبيان پۀ وړومبي وار دخپل ليک پۀ ترځ کښې له ګڼو ژبوکار واخيست. له پښتو، عربى، فارسى او هندى ژبوڅخه ئې يوځائي ګټه پورته کړه. غرض ئې د خپلې مدعا ښۀ شننه وه او که خپل علميت په وګړو مننه وه خو د وروسته راتلونکو ليکونو له پاره يوه غوره مخبېلګه جوړه شوه. د خېرالبيان دغه ګڼ ژبيز بيان پۀ پښتو ادب کښې يوه بله دروازه وازه کړه چې ښۀ ډېر تګ راتګ پرې وشو.
4. خېرالبيان ته يو دا نوښت هم د وړومبيتوب لونګۍ په سر ږدي چې د پښتو نثر ئې تبليغي يعني مقصدي کړو. راج ولي شاه خټک دا واړه د پيرروښان پۀ غاړه کوي او ورته ګوته نيسي: چا چې په دې مقام ادب ته او هم ژوند ته

یو مقصد ورکړو، ،-(۲)پښتون اولس ته دخپل پیغام رسولو له پاره خېرالبیان د پښتو نثر د اوزار په حېث په کار راوست.د نثر په هوار مېدان کښې ئې خپله روشنیه تصوفي فلسفه ودروله، او پښتون وګړي ته ئې د هغې له هرېټ او ښکاره رازه پرده ایسته کړه.د راتلونکو لیکوالانو له پاره د خېرالبیان د مقصدیت دغه اخیستي پل د پلن پُل کردار ولوباوۀ او هغوی هم پښتو نثر د خپل فکر او نظر خبرلوڅ استازی وګرځاوۀ.

5. دا درنښت هم د خېرالبیان په برخه کیږي چې د پښتو علمي کولو وړومبۍ هڅه هم د دۀ له خوا شوې ده.په لومړي ځل د شریعت او طریقت غښتلې او پیئلې څرګندونې هم په دې لیک کښې خوندي شوې دي.د اسلامي فقهې له خوا ټاکل شوې تګلارې او کړنلارې په اول وارپښتونثرته هم دې کتاب ورپېژندلي دي.د پښتو نثر په تاریخ کښې ګورو چې ګڼ شمېر لیکوالانو په خپل خپل وار د خېرالبیان په منډ منډه وهلې ده او د پښتو ژبې د علمي کولو شعوري تابیا ئې کړې ده او کوي ئې -راج ولي شاه ختک ئې داسې مننه کوي- ,, ددې کتاب د پښتو حصه د پښتنو د تعلیم په غرض لیکلې شوې ده- ، ،(۳)

6. دا رښتیاهم ټول په ټوله د منل وړدي چې خېرالبیان د پښتو نثر لیکلوته پښتانۀ لیکوال هڅولي دي.د خپل خوږ نثرد ګټورې پائېلې په دلیل ئې د قلم خاوندان د نثر په ارزښت پوهه کړي دي.په ډاګه کړې ئې ده چې نثري لیک د یوکس یا د اولس د فکري روزنې بلا غوښتنې پوره کولی شي.د روښاني غورځنګ پرمختګ او د پیرروښان په ملاتړ اولسي پاڅون، پښتو نثر لیکنې تۀ د لیکوالانو پام وروګرځاوۀ.هم دا وجه ده چې د پښتو د نثري لیکونو لیکلړ په ډاډ بخښونکي ډول اوږدیږي او غزیږي ځکه خو داسې وئیل کیږي چې : ,, که خېرالبیان نۀ وای نو نۀ به مخزن ؤ او نۀ ارزاني او خوشحال ، ، -(۴)

7. د پښتو لیکدود د کره کولو او پوره کولو له پاره د نورو تورو د رغښت نېکنامي هم د خېرالبیان په برخه کیږي.

8. د پردو ژبو ټکي مغفن کول، او خپل لاسي ټکي او اصطلاحات جوړول هم خېرالبیان رابښودلي چاره ده.

د خېرالبیان دې سالارۍ او سرلارۍ پښتو ژبې او ادب ته ډېره ګټه ورسوله. پښتو ئې په رښتیا پښتو کړه او د نړۍ د سیالو ژبو سره د سیالۍ په لور ئې وخوځوله. په ځائی ده چې: ,, خېرالبیان که یو خوا مذهب د تجدید یوه احیائي جذبه پېدا کړه نو بل خوا ئې یو داسې ادبي مکتب پېدا کړو چې ددې تحریک د تل پاتي ژوند د پاره یو غټ سوب وګرځېدۀ او د پښتو ادب د تعمیر د پاره ئې مضبوط بنیادونه هم پېدا کړل ،،۔(۵)

د خېرالبیان ددې اولیتونو، لوړ علمي او ادبي نویښتونو له مخه ددۀ هر اړخیز جاج اخیستل اړین او د پښتو ژبې او ادب په ګټه دي. څرګنده ده چې د خېرالبیان درې لوئې جوت اړخونه دي.

ا۔ ژبنی اکر (ب) فکري اکر (پ) ځاندریزرغښت یا لیک ډول. دلته ئې یوازې لیک ډول یعنې اسلوب ته پام راګرځوم.

## لیک ډول:

د خېرالبیان لیک ډول یعنې اسلوب د یو بې ساري نویښت سرچینه ده. یو ځانګړے ځاندریز رغښت یعني شکل او فورم لري. دا د پښتو وړومبی فني نثر دی.

> ,, که د معنا په ادا کولو کښې الفاظو ته هم ډېره توجه وشي، یعنې الفاظ د اوډلو او اسلوب، جمال د معنا په کمال غالب وي، یا دا چې د لفظ رونق او ښکلا د معناله جماله سره ساري وي، دې ته نو فني نثر وائي ،،۔(۶)

هغۀ اسلوب چې خېرالبیان په کښې لیکل شوی دی، په عربۍ او فارسۍ کښې له وړاندې نه دود شوی ؤ، خو د پښتو لار ورته هم دې کتاب وښوده.

> ,, موږ د نثر لیکنې ددې سبک نورې زړې نمونې نۀ لرو، نو ځکه موږ بایزید په پښتو کښې د مسجع لیکنې پېلونکی او د دۀ خېرالبیان پۀ پښتو کښې د مسجع نثر لومړنی منظم کتاب بولو۔ ،،(۷)

ددهٔ نه وړاندې، د تذکرة الاولیاء څو پاڼې زموږ پهٔ لاس کښې دي چې د جوړښت له مخه له دهٔ سره هېڅ سمون نهٔ لري .په دغه نثر کښې نهٔ ډېر عربي او فارسي ټکي شته او نهٔ ئې عبارت مسجع او قافیه وال دی .تر ډېره حده ساده او هوارذی.

,, د پښتو پخوانی نثر ساده ، بسیط، واضح، خوږ او څرګندؤ. مګر وروسته چې د هند او ایران فني نثرونه خلګو ولیدل، نو په پښتو کښې هم یو راز دروند او اوږد او مکروه نثر شروع شو، چې اسجاع او مترادفات او اوږدې اوږدې جملې ئې درلودې .او هغه پخوانی وضاحت او سادګي او حلاوت ئې بائېلو.،،(۸)

دغه مسجع ډوله فني نثر خېرالبیان پښتو ته راوړی دی .د خېرالبیان د اسلوب دوه غټې مخونه تر سترګو کېږي. (ا) د تورو چوڼ (۲) د جملو ترتیب.

(1) **د تورو چوڼ** :

د خېرالبیان وېنا څلور ژبېزه ده.خپل مطلب ئې په عربۍ، فارسۍ، هندۍ، او پښتو کښې ښکاره کړی دی .لکه چې پهٔ خپله وائي: ګوره کړی مي دی خېرالبیان، پهٔ څلور ژبې موافق له قران.ځکه یې د تورو چوڼ له درې پلوه څېړل غوره دي.

(ا) څلور ژبېزه وېنا (ب) عربي ، فارسیاو هندي ټکي (پ) پښتو ګړدود

## (ا) څلور ژبېزه وېنا:

خېرالبیان د یو مطلب ښکاره کولو له پاره پهٔ یو وخت څلور ژبې عربي،فارسي، پښتو او هندي پهٔ پرله پسې ډول پکاروي.لکه یا بایزید اکتب علی بدایته الکتاب بتعظیم الحروف بسم الله، انی لااضیع اجرالذین یکبتونه ثم یخربون حرفااو نقطة ثم یکبتونه لاجل البیان.یا بایزید بنویس براغاز کتاب بهٔ بزرګي و بهٔ درستي حروفها بسم الله ، تمام، من ګم نهٔ می کنم مزد ان کساف که می نویسند باز خراب می کنند یک

حرف یا نقطه ، بازمی نویسند برائی درست شدن بیان .او بایزید وکښه په اغاز د کتاب په ښهٔ درست حرفونو بسم الله، تمام، زه نهٔ ورکوم مزدوري د هغو کسانو چې

کښي بيا ورانوي يو حرف يا ټکی، بيا ئې کښي چې درستيږي بيان.ری بايزيد لکهـ
کتاب کے اغاز کے بيان، جن کے سارے اکهر سهن بسم الله، تمام، مين نه گنوانونگا
مزدوري انهن کی جے لکهين پڑن بگاڑن اکهر که تمکنی پڑن لکهيںاس کارن جے سهی
هوئے بيان.خو دغه ټکلاره ئې تراوږدو پاللې نۀ ده.د کتاب پۀ وړومبو څلورو مخونو
کښې هندي شته او بيا ټول کتاب کښې نۀ ترسترګو کيږي.هم دغه شان فارسي ئې
پۀ اولنو لسو مخونو کښې په خپل ځاکلې دود ترسترګوکيږي او بيا نيشته .وروسته
چې د فارسۍ کومې جملې دي ، هغه د خېرالبيان قافيه وال ليک ډول نۀ لري.لکه د
وړومبو لسو مخونو انداز ئې داسې دی .ثنامی گويند ادميان، هادی گفته است
رحمة الله عليه هذاالکلام، در قران است عيان.خو وروسته بيخي بدل انداز خپلوي .
لکه خدای غالب است و حکيم است، چنانچه ستائش کردی برخود، از اخرت محروم
و بې نصيب می گردا ند.بل دغه فارسي جملې د مخطوطې پۀ متن کښې نۀ بلکې
څنډو تۀ ليکل شوې دي.څکه خو دا ګمان پۀ ځای دی چې دغه فارسي د پيرروښان نۀ
بلکې د بل چا ده.حافظ عبدالقدوس قاسمي د خپلې ديباچې پۀ مخ ۹۲ ورته داسې
ګوته نيسي.,, فارسي شکمنه ده چې د بايزيد خپله ليکلې فارسي ده، که د بل چا
اضافه ده ،، له اصل متن څخه دهندۍ او فارسۍ ويستل شايد د کاتب لاسوهنه وي .
د عربۍ برخه ئې کله پۀ ځای او کله پۀ بې ځايه راوړل شوو قراني ايتونو، پۀ غښتلو او
اوېره حديثونو او د صوفي بزګانو په وېناو خپله اډانه جوړوي.کوم عربي عبارت چې
پيرروښان له خپله اړخه ليکي، پۀ هغه کښې ګرامري تېروتنې موندل کيږي .لکه،
ولايرد شيخ الکامل من طلب الحق انسان .دا جمله د عربۍ ګرامر سره سمه
بايد داسې وليکل شي.ولا يرد الشيخ الکامل من طلب الحق الانسان.ددې په ليدو د
سيد تقويم الحق کاکاخيل دريغ سم ښکاري چې په مخزن دخپلې مقدمې په مخ مب
ليکي.د خېرالبيان عربي ټوله غلطه ده.يا د حافظ محمدادريس خبره.

,, ان کی عربی کو تو صرف تبرک سمجهنا چاهيئے ،،(۹) د هغوئ عربي تش تبرک
ګڼل پۀ کار دي.خو بل خوا د حافظ عبدالقدوس خبره هم د پام وړده.پۀ خېرالبيان د
خپلې ديباچې پۀ مخ ۹۷ ليکي :۔,,کيدای شي چې ددې عربۍ ډېرې غلطۍ هغه
ناپوهه کاتبانو کړې وي چې د بايزيد د ارادت په حلقه کښې شامل وو،،.

**(ب) عربي، فارسي او هندي ټکي:** د خیرالبیان له وړمبو څلورو مخونو نه علاوه یوازي یو هندي ټکے جوهړ لیدل کیږي. په پښتو عبارت کښې ئې ډېر عربي او فارسي توري پکار شوي دي. لکه ، د معرفت له ارکانو په هرڅۀ کښې زما دیدن دیداردی. د خپلو علمي مطلبونو ښکاره کولو له پاره شاید دا د خیرالبیان مجبوري وه. کني هغه خو د پښتو علمي کولو له پاره په خپل لاسي پښتو ټکو جوړولو هم ایله نۀ ده کړي. د خیرالبیان په متن کښې د عربۍ او فارسۍ ټکي ګڼ دي خو ستغ نۀ دي . د مرکبو او پیچلو ټکو په ځای ئې لنډ او اسان ټکي پکار کړي دي. لکه عربي ټکي: صحبت ، عیان ، قیامت، هادي، کلام ، اعلام، ظالم، قهر، قدرت، جزا ، غفلت، مشکوک، مغلظ، شرط او یا فارسي ټکي: کوتاه ، توانګر، یګانه، پایان، بیرون، انګشت، ګردالود ، بې هوښي، ګمراه ، مانند ، اوداسې نور ، خیرالبیان راخیستي پردې ټکي که ډېر زیات نۀ دي نو ډېر لږ هم نۀ دي . ما (۲۷۴) ټکي د کتنې لاندې ونیول چې د پښتو د عطف تورې، د جار توري او ضمیرونه وغیره هم په کښې شامل دي. له پلټنې نه په ډاګه شوه چې (۲۴۰) په کښې د پښتو او (۳۴) د عربۍ او فارسۍ دي، چې په سلو کښې ئې شمېر (۱۴) جوړیږي.

**(پ) پښتوګړدود:**

د خیرالبیان په عبارت کښې ګڼ شمېر سوچه، لرغوني او خپل لاسي ټکي په نظر راځي. ددغو ټکو یوه خاصه دا هم ده چې له څېلمه د کوم خاص پښتو ګړدود یعني لهجې سره تړاو نۀ لري. پۀ دوی کښې د شمالي او جنوبي دواړو لهجو توکي ترلاسه کیږي. لکه د شمالي ګړدود توري، کوتر، پشې شا ، کوني کبر، کیباسل، ورچنې، غشایۀ، ستا ، زما ، غوږ، څلور، او د جنوبي لهجې توري . نغړل، ولل، کاږل، ډار، اروېدل، وړمبی، تښتن، ژغورل، ګوښی، ستر، ځنګښ او داسې نور . د پښتو له ګڼو لهجو څخه ټکي راټولول ئې راښیئي چې خیرالبیان د یوې کره لیکنۍ ژبې رامنځ ته کولوهڅه لري . هم دغه کار ددۀ اسلوب تۀ یو ښائېسته رنګ هم ورکوي.

**(۲) د جملو تړون :**

خېرالبيان پۀ خپل بيان کښې د خوږوالي او اغېز زېږولو له پاره د پښتو جملې پۀ طبعې جوړښت کښې بدلون کوي، او يا ورته الهامي رنګ ورکوي .پۀ نتيجه کښې ئې نثر دومره بدلون مومي چې ځينې ځای پرې د باقاعده عروضي شعر ګمان کيږي. دغه چاره پۀ درې ډوله ترسره کوي : (ا) د سورة الرحمن پۀ وزن ليکنه: (ب) پېچلې عبارت ليکل (پ) د الهام پۀ دود بيان.

**(ا) د سورة الرحمان په وزن ليکنه:**

خېرالبيان د خپلې وېنا خوږولو له پاره د قران شريف د ليک ډول له خواږۀ سمندره لپه ډکوي. د سورة الرحمن د تال او تول لمن رانيسي اوخپل چلن تۀ دغه چال خوښوي. لکه چې وائي: او بايزيد وکښه خېرالبيان په هسې الحان چې لوست سورة الرحمن. د سورة الرحمن پۀ زمکه د ليکولپاره دوه لارې خپلوي :
(۱) د سورة الرحمن قافيه راټينګول (۲) قافيه وال نثرليکل.

**(۱) د سورة الرحمن قافيه راټينګول.**

خېرالبيان د سورة الرحمن پۀ زمکه يعنې وزن او قافيه ليک کوي .د نومورې سورة قافيه ان، ام او ار ده. چې درې واړه يوشان وزن لري .لکه، تکذبان، يلتقيان، مرجان، فان، شان، سلطان ، اکمام، اعلام، اکرام، خيام، اقدام، نار، فخار. خېرالبيان راوړې قافيه اووزن هم دغه شان دي .لکه د بېلګې پۀ توګه ادميان، بيان ، سبحان ، عيان، جهان، زيان، رحمان، فرمان، ګمان، قران، کلام، اسلام ، اعلام،تمام ،مدام،سلام، امام، اندام حرام،قيام او داسې نور. د سورة الرحمن د زياتره ايتونو د چپو شمېر منځکوره دی يعنې نۀ لنډ او نۀ اوږد. لکه، فبای الاء ربکماتکذبان ۱۵ چپې، والارض و ضعها للانام ۱۰ چپې او خلق الانسان من صلصال کاالفخار ۱۳ چپې لري. دغه شان د خېرالبيان جملې هم منځکوره ساتل شوې دي. لکه، وبه مري پۀ نادانۍ، تن، کور، ځائے بۀ ئې شي وران ۱۴ چپې، ترو به جزا د عذاب تل د تله مومي مدام ۱۰ چپې او مزد باقي بۀ بيا مومي چې نۀ بۀ شي وران ۱۲ چپې لري. د سورة الرحمن دا يو ايت فبای الاء.... بيا بيا تکراريږي .هم دغه شان خېرالبيان خپلې ځينې جملې بيا بيا راوړي. لکه د ايت پۀ ختمېدو وائي . پۀ قران کښې دي عيان يا بيان دی د قران د کوم حديث پۀ اخر کښې وائي : نبي

وئيلي د ي عليه السلام او د خپلې وينا په اخر کښې بيا بيا وائي : هادي وئيلي دي، رحمت د خداى په دۀ دا کلام.

### (۲) قافيه وال نثر ليکل :

د سورة الرحمن په رنګ او اهنګ کښې د ساتلو له پاره خېرالبيان خپل ليک سرترپايه د نوموړي سورت په قافيو کښې ساتي. دغه وجه ده چې ټول ليک ئي د وينا يو شان انداز لري. قافيه بندۍ ته د زياتې پاملرنې په وجه ځينې ځائے غبرګې قافيې هم راوړي .لکه، ياکه ځاى وي ګورستان عيان .مادې ياد لري مخلصان ادميان. داسې غبرګې قافيې هم دلته ترسترګو کيږي چې د عطف يا اضافت وغيره تورې ئې يو تربله لرې باسي .لکه دا جمله : رښتيني لار وروښيۀ لکه پېغمبران و ادميان. يا لکه ، په فرمان د رحمان، فرمان او سبحان او داسې نور، ځينې ځاى د قافيه بندۍ په خاطر د ګرامر له درشلې هم پښه وباسي. لکه، زۀ بۀ خپلې فرښتې وته وکړم فرمان چې نۀ کښې تپه د بدکاران له تپې د نېکوکاران ادميان .ښکاره ده چې د ,,ان،، په وروستاړي جوړ شوى جمع نوم د حرف اضافت په لګېدو په خپل اخر کښې د ,,واو،، اضافه کوي. پکار ده چې ليکل شوى وى : بدکارانو، نېکوکارانو، ادميانو، خو دلته داسې شوې نۀ ده.

### (ب) پېچلى عبارت ليکل :

په خېرالبيان کښې د ژبې او وينا ښکلايز اړخ تۀ زياته پاملرنه شوې ده .د خوږلت پېدا کولو له پاره ئې د پښتو نثر طبعي ترتيب تۀ بدلون ورکړى دى .دغه بدلون په دوه ډوله ترسره شوى دى.

(۱) خپلمنځي ادلون بدلون. (۲) د ټکو تکرار.

### (۱) خپلمنځي ادلون بدلون :

خېرالبيان د قراني اسلوب راتېنګولو له پاره ډېر ځايه د پښتو نحوي ترتيب د عربۍ ګرامر ته ورنېږدې کوي. د عربۍ ګرامر ترمخه مضاف مخکښې او مضاف اليه وروسته راځي. لکه ، اصحاب الشمال يا بيت الله. په پښتو کښې مضاف اليه مخکښې او مضاف وروسته راځي .لکه، د شمال خاوندان يا د الله تعالى کور . خېرالبيان ځينې ځاى د عربۍ ګرامر سره سم نحوي ترکيب راوړي .لکه، کفاره د

روژې، راحت د روح، نیت د جنازې او داسې نور۔ دغه شان د عربی نحوي ترمخه د نفي فعلي ادات او د امر یا خواست فعلونه د جملې ترټولو توکو وړاندې راځي۔لکه لیس لنفس ان تموت الاباذن الله یا اهدنا صراط المستقیم ۔بل خوا پۀ پښتو کښې دغه توکي د جملې پۀ اخر کښې راځي لکه ، پۀ دنیا کښې بقانشته یا ماته د شېطان وسله راوښیۀ۔ خېرالبیان د پښتو نحوي ترکیب بدلوي او لیکي: نشته پۀ دنیا کښې بقا او نشته ورانی د هغه جهان عیان۔ یا راوښیۀ وماوته وسله د شېطان۔

**(۲) د ټکوتکرار:**

خېرالبیان خپل مذهبي فکر پۀ ښۀ او اغېزمن ډول وړاندې کول غواړي ۔ ددې غرض ترمخه پۀ یوه خبره د زور ورکولو یا پخلي له پاره ځینې ټکي تکراروي۔ یا پۀ خپله وېنا کښې د خوند او اثر پېدا کولو له پاره هم معنیز توري راوړي ۔لکه، د زړۀ پۀ حضوری مشغولي ده او فکر دائیم مدام۔ د معرفت له ارکانو پۀ هر څۀ کښې زما دیدن دیدار دی۔ نۀ د اورچې سېزونی دی سوزان۔ ترو بۀ مزکه ، هر غر ټکړې، خزری، زره زره کړم۔ دلته د یوشان معنو لرونکو ټکو جوړې لیدل کېږي۔ لکه، دائیم مدام ، دیدن دیدار، سېزونی سوزان، ټکړه خزری زره۔

**(پ) د الهام پۀ دود بیان:**

خېرالبیان هڅه کوي چې هغه د خدای له خوا راغلې سپېڅلې وېنا وګڼل شي۔ ددۀ پېغام دي د یوې شرعي عقیدې پۀ حېث ومنل شي، ځکه ورته الهامي رنګ ورکوي۔ د وېنا انداز د الهام غوندې د سوال ځواب او خطاب ساتي۔ پیرروښان د کومې شرعي مسئلې پۀ حقله له خدای نه پوښتنه کوي۔ خدای ورته پۀ ځواب کښې ددغې مسئلې پۀ ترخ کښې ژوره او فراخه لارښوونه کوي ۔پۀ دې ډول وېنا خپل لوستونکي تۀ باور ورکوي چې دا وېنا ټول پۀ ټوله او نېغ پۀ نېغه د خدای له لوري ده۔ لکه د بېلګې پۀ توګه : راوښیۀ و ماوتۀ رواکلمه د شهادت، نمونځ، روژه، زکات، حج او احرام، او سبحان۔ د خدای له اړخه د ځواب پۀ دود داسې لیکي : او بایزید ، کلمه د شهادت مې د هغو رواکړې ده ، هر چې ئې نمونځ، روژه، زکات روا دي له ادمیان۔ د وېنا پۀ دې انداز خېرالبیان د خپلې مخالفې ډلې له خوا پۀ کفر تورن شو۔ دا ډول لیکنې پۀ پښتو کښې نۀ وې ځکه دغه د اختلاف کړکېچ رامنځ تۀ شو۔ دا ډول

لیکنې پهٔ عربۍ او فارسۍ کښې له مخکښې نه دود وې ـ د شېخ عبدالقادر جیلانی لیکلې ,,رساله غوثیه،، هم دا کړۀ وړۀ لري ـ ,, بایزید چې څۀ چل زده کړی دی، هغه ئې دیوې رسالې نه زده کړی دی ـ چې شېخ عبدالقادر تهٔ منسوبه ده ،،ـ(۱۰)

هم دا الهامي انداز د خېرالبیان د لیک ډول یوه ځانګړتیا او پېژندګلو جوړه شوه ـ د پیرروښان منونکو خېرالبیان تهٔ درناوی ورکړو ـ دا انداز چې څومره اغېزمن ؤ، هومره د شخړو ښکار شو ـ مخالفې ډلې ئې د عقیدې له رویه غندنه وکړه او وروسته هیڅا ونهٔ پالهٔ ـ

دا هم باید ومنو چې خېرالبیان پهٔ خپل لیک ډول له ډېرو ښېګړو ترڅنګه ځینې کړکېچونه هم د خپل نثر پهٔ برخه کړل ـ لکه ، خپل نثرئې نظم تهٔ نېژدې کړواو د نثر فطري جوړښت او ځاندره ئې ګډه وډه کړه ـ پښتو نثرئې پېچلی کړو او له اسانۍ نه ئې د ګرانۍ پهٔ لورې بوت ـ د پېغام ترڅنګ ئې د بیان پهٔ ښکلا دومره زیات زور ورکړو ـ چې نثرئې ادبي نهٔ بلکې تش هنر ته نېژدې کړو ـ د ښائست پهٔ لټون کښې ئې پښتو نثر تهٔ پنډوکی عربي او فارسي توري راوړل چې خپله د اولس پهٔ ځای د کس د لوست جوګه پاتې شو ـ

د لنډېز پهٔ توګه باید د خېرالبیان ښېګړې داسې پرله پسې کړم : د خېرالبیان نثر د بیان او لیک ډول له مخه ډېرې ښېګړې لري ـ لکه عربي او فارسي توري کارول، ګڼ ژبېزلیک ډول پښتو تهٔ ننه ایستل، پښتو خپل لاسي او نورو سوچه پښتو تورو ترڅنګه پردي ټکي او اصطلاحات د مغفن پهٔ بڼه راوړل، بین الافغان ګړدود استعمالول ، تر ډېره حده له فصاحته کار اخیستل، د سورة الرحمن د لیکډول پهٔ پېروۍ پهٔ خپله وینا کښې خوږلت پېدا کول ، نیم عروضي فني نثر پهٔ پښتو کښې رواجول، د پښتو نثر پېغامیز او علمي کول او داسې نور ـ د خپلو بې سارو ښېګړو او ځانګړتیاو له مخه پهٔ ډاډ وئېلی شو چې خېرالبیان د پښتو نثر د سرلارۍ او سالارۍ هسکه لونګۍ پهٔ سرګرځوي ـ

## حوالې


۱: سربن،محمد اسماعیل، سرڅېړونکی، پهٔ پښتو ادب کښې د اخونددرویزه او ددهٔ د پېروانو ادبي مقام، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو انسټیټیوت ، کابل، ۱۳۸۲هـ ش ، م ۹۵

۲: ختټك،ډاکټرراج ولي شاه ، د پښتو ادبي تحریکونه، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي ، پېښور، ۱۹۸۹ء م ۸۲

۳:هم دغه اثر، م ۷۴

۴: قاسمي،حافظ عبدالقدوس، دیباچه، خېرالبیان، پښتواکېډیمي، پېښور یونیورسټي ، پېښور، دویم ځل ، ۱۹۸۸ء م ۹۷

۵: خوېشکي، ډاکټر،پروېزمهجور، ډاکټر، مقدمه د مرزاخان انصاري دیوان، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، پېښور ۲۰۰۴ء م ۱

۶: حبیبي ،عبدالحئ، د پښتو ادبیاتو تاریخ ، پښتو ټولنه، کابل، دوهم ټوک، ۱۹۲۳ء م ۲۵۱

۷: هېواد مل،زلمی، سرمحقق، د پښتو نثراتهٔ سوه کاله ، ۱۹۹۲ء ، م ۱۷۲

۸: حبیبي،عبدالحٔی، دپښتو ادبیاتو تاریخ، م ۲۵۷

۹: محمد ادریس،حافظ، تعارف، صراط التوحید، ادارهٔ اشاعت سرحد، پشاور، ۱۹۸۲ء م د

۱۰: قاسمي،حافظ عبدالقدوس، د یباچه خېرالبیان، مخ ۱۱۵